بسم الله الرحمن الرحيم
د سعیدافغاني د سولې او تفاهم ، نشراتي ارګان
www. said-afghani.org
استقامت په ژوند کی او متانت په کارنوکی
د موفقیت راز دی . « سعید افغاني »

آزاده ، تولنیزه ، فرهنګي
او نشراتي ارګان



Dr. M. Said Said Afghani

د سعید افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

صيام الدين « پسرلي »
د نشر نیټه : ۶ سپتمبر ۲۰۱۲ میلادی

# خبريالانوته د بشري حقونو دزده کړې دوه ورځنۍ
# ورکشاپ پرانستل شو




نن سه شنبه د۱۳۹۱یم لمریزکال دوړي په څوارلسمه نیټه دافغانستان دبشري حقونو دخپلواک کمیسیون په هڅونه او ملاتړ او دمیدیوتیک افغانستان په تخنیکي او مسلکي مرسته دختیځ ددېرشو تنو ځوانو خبريالانو دروزنې په مخه دننګرهاررسنیو کور ( میدیوتیک ) په انګړ کي داروزنیز ورکشاپ جوړشو.

دورکشاپ په پرانستونې غونډه کې په ختیځ کې دمیدیوتیک افغانستان رسنیوکور مسوول پوهنيار محمد داود وفا وويل :

دبشري ارزښتونو پېژندل دهر انسان دنده ده ، او په تېره دخبريالانو دنده ده چې دبشري حقونو په ترويج ، تعميم او تامين کې اغيزمن رول ادا کړي. ده وويل ، دبشري حقونو سپارښتنه څه ناڅه څوارلس سوه کاله مخکې لا زمونږ سپېڅلي او مقدس کتاب عظيم الشان قران کړې ده او د خلکو د

درناوي ساتل ، خلک نيکو کارونو ته هڅول ، دنورو خلکو دحقونو خونديتوب، دبشري کرامت پالنه او پراختيا ته کار اصلادخپل دين او عقيدې دپراختيا په ماناده.

نومورِي دبشري حقونو دفتر ته دوړاندیځ په دود وویل، دپښتو دلرغونیو او کلاسیکو ادبیاتو بشري
ارزښتونه دې هم دغونډو ، کنفرانسونو او ورکشاپونو له لارې توضیح او تشریح کړای شي .

استاد وفا دمیدیوتیک افغانستان په استازی ټولو افغاني مدني بنسټونو ته له خپله اړخه دمرستې
ملګرتیا ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه ، چې میدیوتیک افغانستان دخپلې دندې له مخې دخبریالانو لپاره
دمدني او بشري روزنې زمینې برابرې کړي او په دې برخه کې دنورو دمرستې او ملګرتیا
هرکلی کوي.

بیا دبشري حقونو دخپلواک کمیسیون دتعلیماتو څانګې مشرمطیع الله تنها امین پخپله وینا کې
دورکشاپ اجند تشریح کړه او وې ویل ، ددغه ورکشاپ هدف دادی ، چې خبریالان څرنګه کولای
شي، بشري کرامت او د بشري حقونو دتامین لپاره خپلواکه مبارزه په کار واچوي. څکه چې خبریالان
دابلاغ دمهمې وسیلې په توګه ترنورو یو ګام وړاندې مسوولیت لري. نومورِي وویل، د دوه ورځو

په بهیر کې دیادې موضوع په بیلابیلو برخو به د مسلکي روزونکو په مرسته بحث ومباحثه
وشي.
دغه ورکشاپ ته دختیځو سیمو له بیلا بیلو رسنیو نه دبرش تنه ځوان خبریالان راغلي دی
چې د چارشنبې په ورځ به هم روان وي.

ننګرهاررسنیز کور

صیام الدین« پسرلی»




www.said-afghani.org — بازگشت به صفحه اصلی

هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است